# 60 حجونه کوونکے حاجي

پښتو



شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیٔ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال
مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي
دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

دا مضمون د ”عاشقانِ رسول کی 130 حکایات“ صفحه 84 تا 107 نه اخستے شوے دے-

# 60 حج کوُونکے حاجي

دُعائے عطار: یا الله پاکه: چې څوک هم دا رساله ”60 حج کوُونکے حاجي“ واورِي یا ئۓ اُولولي د هغه هر کال قبول شوے حج نصیب کړې او د شین ګنبد د سوري لاندې ئې شهادت نصیب کړې او په جَنّتُ الْبَقِیع کښې دفن کیدل ئې نصیب کړې- اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: چا چې په شپه او ورځ کښې په ما باندې ډیر په شوق او محبّت سره درود شریف اُولوستلو په الله پاک باندې حق دے چې هغه د هغه د هغې شپې او ورځې ګناهونه معاف کړې- (معجم کبیر، 362/18، حدیث:928)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## کله چې بلنه آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیله انتظام پخپله اوشو

حضرتِ علّامه اَبُوالْفَرَج عبدُ الرّحمٰن بن علی ابنِ جَوزی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خپل کتاب عُیُونُ الحِکَایات کښې لیکلي دي: د یو پرهیزګاره ګس بیان دے: ” ما مُسَلسَل درې کالو نه دَ حج دُعا کوله خو زما ارمان پوره نه شو، په څلورم کال باندې د حج موسم وُو او زما زړه د حَرَم په ارمان کښې بےقراره وُو یوه شپه زه اُوده شوم نو د قِسمت شمع مې روښانه شوه او په خوب کښې مې د دوانړو جهانو سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زیارت نصِیب شو زما آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: ” ته دې کال حج ته لاړ شه-“ زما سترګې چې اوغړیدلې نو زړه مې د خوشحالۍ نه ټوپونه وهل، د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ آواز زما په غوږونو

کښېي خوږوالے پرېښودو،'' ته دې کال حج ته لاړ شه-'' د بارګاهِ نبوّت نه د حج اِجازت ملاو شوے وُو ، زه ډېر زيات خوشحاله وُوم- ناڅاپه راياد شو چې ما سره خو د لارې خرچه نِشته! په دې خيال راتللو زه خفه شوم، خو ما د خپل غربت ذکر اُونکړے شو دغه شان په درېمه شپه باندې هم په خوب کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بارګاه نه داسې حُکم اُوشو: ته دې کال حج ته لاړ شه-'' ما سوچ اُوکړو که په ځلورم ځل باندې د مدينے د جانان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار رانصيب شو نو زه به د خپلو مالي حالاتو متعلق عرض کووم-

آه! پلے زر نہیں رختِ سفر سرور نہیں  تم بُلا لو تم بُلانے پر ہو قادِر یا نبی

په ځلورمه شپه بيا د دوانړو جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږه غريب خانے ته تشريف آوري اُوکړه او ارشاد ئې اُوفرمائيلو: '' ته دې کال حج ته لاړ شه-'' ما په جوړه لاسونو عرض اُوکړو: زما آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما سره اخراجات نشته ارشاد ئې اوفرمائيلو: ته په خپل کور کښې فلانکے ځائے اُوکَنه هَلتَه به ستا د نيکه زَغرَه وي دا ئې چې اوفرمائيل نو د دوانړو جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف يوړلو سَحَر چې کله زما سترګې اوغړيدې نو زه ډېر زيات خوشحاله وُوم د سحر د لمُونځ نه پس مې د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښودلې شوي زمکه اُوکَنستله نو هَلته واقعي يوه قيمتي زغره موجوده وه او بالکل داسې پاکه صفا وه لکه چا چې هډو استعمال کړې نه وي! ما هغه په خلور زره ديناره خَرڅه کړه او د الله پاک شکر مې ادا کړو- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دوانړو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظرِ عنايت د حج د اسبابو انتظام پخپله اُوشو- (عيون الحكايات، ص326 ملخصا)

جب بُلایا آقا نے  خود ہی انتظام ہو گئے

يعني چې کله آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوغوښتلم نو انتظام پخپله اُوشو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مونږ ستا خبره اَورِيدَلي ده

حضرت علي بن موفق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د حج سعادت حاصِل کړو، د کعبے کعبے مُعظّمے معظّمے طواف مي اُوکړو، حجرِ اَسوَد مي ښکُل کړُو، دوه رکعته د طواف لمُونځ مي اُوکړو او د کعبے کعبے شريفي ديوال سره کښيناستم او په ژړا شوم او په بارګاهِ الٰهي کښي مي عرض اُوکړو:" اے الله! پته نشته ما ستا د پاک کور څومره طوافونه اوکړل خو معلومه نه ده چي قبول شوی به وی او که نه، بيا په ما باندې بےهوشي راغله، ما يو غيبي آواز واوريدو:" اے علي بن موفق! مونږ ستا خبره اَوريدلي ده، آيا ته خپل کور ته صرف هغه څوک نه رابلې چا سره چي ته محبّت کوې!" (الروض الفائق ص59) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بُلاتے ہیں اسی کو جس کی بگڑی یہ بناتے ہیں
کمر بندھنا دیارِ طیبہ کو کھلنا ہے قسمت کا
(ذوقِ نعت، ص37)

## که صبر دِ کړے وے نو د قدمونو به دِ چينے رَوَاني شوې وے

حضرت عبدالله بن حنيف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:" زه د حج په اِراده روان شُوم، بغداد ته رسِيدو پورې زما حالت دا وُو چي مُسَلسَل څلويښتو ورځو پورې ما هيڅ نه وُو خوړلي، د ډيرې تندې په حالت کښې چي يو کُوهِي ته وَرغلم نو هَلته يوې هوسۍ اُوبه څښلې، زه ئې چي اوليدم نو هغه هوسۍ اُوتښتيدله، ما چي کوهي ته ښکتهښکته اُوکتل نو اوبه ډيرې ښکتهښکته وے او بغير د بوقے نه نه شوې راوتلے - ما اووئيل: اے زما مالِکه! زما مرتبه د دې هوسۍ برابر هم نه ده! او روان شوم" نو ما ته د شا د طرفه آواز راغے:"

مونږ ستا ازمینښت اوکړو خو تا صبر اُونکړو، اوس واپس لاړ شه او اُوبه اوڅښه-" زه چې کله واپس شوم نو کوهے راډک شوے وُو، ما خپله تنده ماته کړه او خپل مشک مې هُم ډک کړو، نو ما یو غیبي آواز وَاورِیدُو:" هوسئ خو د مشک نه بغیر راغلي وه او ته د مشک سره راغلے ئې-" ما په ټوله لاره د هغه مشکیزے نه اوبه څښلې او اودس مې هُم ترینه کولو خو اوبه ختمې نه شوې- بیا چې کله د حج نه بیرته راغلم او جامع مسجد ته داخل شوم نو هلته جنید بغدادي رحمۃ اللہ علیہ تشریف فرما وُو هغوئي زما د لِیدَلو سره سمدستي اِرشاد اوفرمائیلو:" که تا د یو ساعت د پاره صبر کړے وے نو ستا د قدمونو نه به چینے جاري شوے وے (الروض الفائق، ص103ملتقطا) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

اُن کے طالِب نے جو چاہا پا لیا
اُن کے سائل نے جو مانگا مل گیا
(ذوقِ نعت، ص34)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَ یو طواف کوُونکي عجیبه دُعا

حضرتِ قاسِم بن عثمان رحمۃ اللہ علیہ چې یو صاحبِ علم و فَضل او متّقي بزرګ وُو، فرمائي: ما یَو کس اُولِیدو چې د طواف په دوران کښې ئې صرف هم دا دُعا کوله اَللّٰھُمَّ قَضَیْتَ حَاجَۃَ الْمُحْتَاجِیْنَ وَحَاجَتِیْ لَمْ تَقْضِ یعنی " اے الله پاکه! تا د ټولو حاجت مندو حاجتونه پوره کړل او زما حاجت پوره نه شو-" ما چې کله هغه نه د دې عجیبه دُعا متعلّق پوښتنه اُوکړه نو اُوئې وَئیل: مونږ اُووه کسان په جِهاد کښې لاړو، غیر مُسلمو مونږه ګرفتار کړو، کله چې په اِراده د قتل ئې میدان ته راوَستلو، ما زر سر اوچت کړو څه ګورم چې په اسمان کښې اُووه دروازے بیرته دي او په هره دروازه باندې یوه حُوره

ولاړه ده، څنګه چې ئې زمونږ یو ملګرے شهید کړو نو ما اوکتل چې یوے حورې په لاس کښې رومال راخِستے دے او د شهید د روح وړلو د پاره ښکته راکوزه شوه، دغه شان زما شپږ ملګري شهیدان شو او د ټولو د روحونو وړلو د پاره به یوه یوه حُوره راکوزیدله ، کله چې زما وار راغے نو یو درباري د خپل خدمت د پاره زه د بادشاه نه اُوغوښتلم او زه د شهادت د سعادت نه محرومه شوم- ما د یوے حورې نه واورِیدل:" اے محرومه! آخر د دې سعادت نه ولې محرومه شوے؟ بیا د اسمان اووه واره دروازے بندې شوے- نو اے زما وروره ما ته په خپله محرومئ باندې ډیر افسوس دے- کاش! چې ما ته هم د شهادت دا سعادت نصیب شوے وے هم دا هغه حاجت دے چې تا په دعا کښې واوریدو- حضرت قاسم بن عثمان رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: زما په نزد باندې په دغه ووه کسانو کښې د ټولو نه خوش نصیبه هم دا ووم دے کوم چې د قتل نه بچ شو، ده په خپلو سترګو هغه روح پرور منظر اُولیدو کوم چې چا نه دے لیدلے او بیا دے ژوندے پاتې شو او ډیر په ذوق و شوق سره نیکئ کوي (المستطرف 249/1.مفهوما) **د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم**

مال و دولت کی دعا ہم نہ خدا کرتے ہیں ہم تو مرنے کی مدینے میں دُعا کرتے ہیں
(وسائلِ بخشش،ص293)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د الله پاک خفیه تدبیر

حضرت ابو محمد رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د الله پاک په توکل باندې درې کسان د زادِ راه [د لارې د سامان] نه بغیر حج له رَوان شو- د سفر په دوران کښې هغوئي د عِیسایانو په یوه آبادئ کښې قِیام اُوکړو، په هغوئي کښې د یو کَس نظر په یوے ښکلې نصراني (یعني عیسائي) جینئ باندې پریوَتو او په هغې عاشِق شو- هغه "عاشِق" په څه حِیله بهَانه په هغه آبادئ کښې پاتې شُو او نور دوانړه حاجیان مکې‌کښې په سفر رَوان شو، بیا هغه عاشق د

خپل زړه خبره د هغه جينئ پلار ته اُوکړه، هغه ورته اُووَئيل: د دې مَهَر به ته ادا نه کړے شې-" تپوس ئې ترينه اُوکړو: "چې څه مَهَر ئې دے؟ هغه اُووَئيل: چې عيسائي شه -" هغه بدقِسمته عِيسائِيَت اِختيار کړو او هغې جينئ سره ئې نکاح اُوکړه او دوه بچي ئې هم اوشول- آخر هغه مړ شو- د هغه دوانړه حاجيان ملګري  په څه سفر باندې بيا په هغه آبادئ تيريدل نو د ټولو حالاتو نه خبر شول، هغوئي ته ډير افسوس اوشو، کله چې هغوئي د عِيسايانو په مُقبره باندې تيريدل نو د هغه (بد قِسمته عاشق) قبر ته ئې يوه زنانه او دوه ماشومان په ژړا اوليدل، هغه دوانړه حاجيان هم (د الله پاک د خفيه تدبير په وجه) ب په ژړا شو، زنانه ترينه تپوس اوکړو چې تاسو ولې ژاړئ؟" هغوئي د مړي د مسلمانئ د حالت د لمونځونو، عبادتونو، او زُهد و تقوىٰ وغيره تذکره اُوکړه- چې هغې زنانه دا واوريدل نو د هغې زړه اِسلام طرف ته مائله شو او هغه د خپلو دوانړو بچو سره مسلمانه شوه- (الروض الفائق، ص16 ملخصا) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! څنګه زړه خوفناکه معامله ده چې د حرم په لاره کښې نيک پرهيزګاره مسافر ناڅاپه د عِشق مجازي په چکر کښې راګير شو او د زړه سره سره ئې خپل دين هُم ورکړو او د مختصر وخت د مزو اخستلو نه پس مړ شو د تورو تيَرو قبر ته کوز شو! د دې حکايت نه درس عِبرت اِخستلو سره مونږ ټولو له د الله پاک د خفيه تدبير نه ويريدل او د بهترې خاتمې دعا پکار ده چې معلومه نه ده مونږ سره به څه معامله کيږي! د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه له طرفه جاري شوي سنسني خيزه V.C.D يا آډيو کيسټ " "الله پاک کی خفیہ تدبیر" واخلئ- او واورئ اِنْ شَآءَاللّٰه تاسو به د خوفِ خدا نه اورپيږئ-

جہاں میں ہیں عبرت کے ہر سُو نمُونے　　مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بُو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تُو نے　　جو آباد تھے وہ محل اب ہیں سُونے
جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے　　یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　❀❀❀　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اے کاش! چې زه هم د ژړېدُونکو نه وے

په دُعائے عرفات کښې چې کله د حاجیانو د ژړا آوازونه او اوښکې جاري شوې نو حضرت بکر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوفرمائیل: اے کاش! چې زه هم په دې ژړېدُونکو حاجیانو کښې وے-" او حضرت مُطَرّف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله په خوفِ خدا کښې ډېر زیات مغلوبه شُو نو په عاجزئ سره ئې عرض اُوکړو: اے الله پاکه! زما (د نافرمانیانو) په وجه دا حاجیان مه رَد کوه- (الروض الفائق ص 59 ملخصا) **د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

مرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دم ترے خوف سے یاخدا یاالٰہی
((وسائلِ بخشش، ص105

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## په عرفات کښې د وُقُوف کُوونکو بخښنه اُوشوه

حضرت محمد بن مُنکَدِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دَ 33 حجُونو ادا کولو سعادت حاصِل کړے وُو، په خپل آخِري حج کښې ئې په میدانِ عرفات کښې دُعا کوله نوعرض ئې اوکړو:" اے الله کریمه! تا ته پته ده چې ما په دې عرفات کښې 33 ځله وُقُوف کړے دے، یو ځل د خپل ځان له طرفه او یو یو ځل د خپل مور او پلار له طرفه د حج نه مشرّفه شوے یم- اے رَبِّ کریمه! زه تا ګواه جوړَوَم چې ما باقي 30 حجونه هغه کس ته هِبَه (یعني تُحفه) کړل چې دلته په عرفات کښې ئې وُقوف کړے وي خو د هغه وُقُوفِ عرفه نه وي قبول شوے-" کله چې هغوئي د عرفات نه مُزدَلِفے ته اُورَسِیدل نو په خوب کښې ورته اواز اوکړے شو: " اے اِبنِ مُنکَدِر! آیا ته په هغه چا باندې کرم کوے چا چې کَرَم پیدا کړے دے؟ آیا ته په هغه چا باندې سَخَاوت کوے چا چې سَخَاوت پیدا کړے دے؟ ستا رب تا ته فرمائي: زما دِ په خپل عزت و جلال باندې قسم وي! ما د عرفات وقوف

کوُونکي د عرفات پيدا کولو نه دوه زره کاله مخکښې بخښلي وُو- (الروض الفائق، ص60) د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

غمِ حیات ابھی راحتوں میں ڈھل جائیں　　　تری عطا کا اشارہ جو ہو گیا یاربّ
(وسائلِ بخشش، ص76)

## د آقائے دوجهان له طرفه ئي حج اوکړو نو ډير کرم پرې اوشو

حضرت علي بن موَفِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د رَسُول اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له طرفه ډير حَجُونه کړي وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته په خوب کښې د مدينے منوّرے د جانان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار اُوشو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترينه تپوس اوکړو: "اے ابن موَفِق! آيا تا زما له طرفه حجُونه کړي دي؟" ما عرض اوکړو: آؤ جي- بيا ئي اوفرمائيل: " تا زما له طرفه تَلبِيَه وئيلي وه؟ ما عرض اوکړو: آؤ جي- بيا ئي اوفرمائيل:" زه به په ورځ د قيامت د دې بدله درکووم او زه به په محشرکښې تا لاس نيولے جنّت ته داخلووم او خلق به لا د حساب په سختئ کښې وي-" (لبابُ الاحیاء، ص83) د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

شکریہ کیونکر ادا ہو آپ کا یا مصطفٰے　　　ہے پڑوسی خلد میں اپنا بنایا شکریہ
(وسائلِ بخشش ص372)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## 60 حَجُونه کَوَلو والا حاجي

د حضرت علي بن مُوَفق دا شپيتَم حَج وُو، په حرمِ مُحْتَرَم کښې حاضِر وُو د هغوئي په ذهن کښې ناڅاپه دا خيال راغے چې تر څو به د حَج د پاره هر کال په دَشتُو او ځنګلو کښې تکليفونه برداشت کووم! په دې دوران کښې پرې د خُوب غلبه شوه، او اوده شُو او يو

غيبي آواز ئي واورِيدو:" د هغه چا د پاره خوشخبري ده "څوک چې د هغه مولا کريم دوست اُوساتلو او خپل کور ته ئي راوُوبَلَلو او د لوئے مرتبے نه ئي سَرفرازَه کړو-" (روض الرياحين، ص107 ملخصا) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ضُعف مانا مگر یہ ظالم دل اُن کے رستے میں تَو تھکا نہ کرے
(حدائقِ بخشش، ص142)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رُخصَت مُنتَظِر ځوان ته د اجازت خوشخبري

حضرت ذُوالنُّون مِصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کعبے کعبے مُعظّمے مُعظّمے په خواه کښې يو ځوان اُوليدو چې هغه مُسَلسَل لمُونځونه کول او د بس کولو نوم ئي نه اخستلو- دوئي چې موقع اُوموندله نو هغه ته ئي اُوفرمائيل: څه خبره ده چې د واپس تللو په ځائے مُسَلسَل لمُونځونه کوے! هغه اُووَئيل: په خپله خوښه څنګه لاړ شم! د رُخصت ميلاويدلو د اجازت انتظار دے! حضرت ذوالنون مصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مونږ لا په دې خَبرو کښې مَشغُول وُو چې د هغه ځوان د پاسه يوه رُقعه [چيټئ] راپريوته، په هغې کښې لِيکلي وُو:" دا خط د خُدائے عزيز و غفّار له طرفه د هغه د شکر ګزار او مخلصه بنده د پاره دے، واپس لاړ شه! ستا تير شوي او راروان ګناهونه مُعاف دي-" (روض الرياحين، ص108 ملخصا) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

محبّت میں اپنی گما یا الٰہی نہ پاؤں میں اپنا پتا یا الٰہی
(وسائلِ بخشش ص105)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## نه مایُوسه کیدُونکے حاجي

حضرت مالک بن دینار رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: يو عابد وائي: چې ما مسلسل ډيرو کلونو پورې د حج عظيم سعادت حاصلولو او هر کال به مې يَو دَرويش لِيدلو چې د کعبے مُعظّمے دروازه به ئي نيولي وه- هغه به چې کله" لَبَّيْک ط اَللّٰهُمَّ لَبَّيْک ط" وئيل نو د غيب نه به آواز راغے: " لَا لَبَّيْک "- ما په څوارلَسَم کال باندې د هغه کس نه تپوس اُوکړو: چې اے درويشه! ته کُوم خو نه ئې؟ هغه جواب راکړو: " زه هر څه اَورم-" ما ورته اُووَئيل: بيا دا تکليف ولې کوے؟ هغه اُووَئيل: اے شيخه! زه په قَسَم سره بيان کووم چې که د څوارلسو کالو په ځائے زما عُمر څوارلس زره کاله شي او د کال په ځائے هره ورځ زَر ځله دا جواب " لا لبّيک " اَورَم نو بيا به هم د دې دروازے نه سَر پورته نه کړم هغوئي فرمائي: چې مونږ په خبرو کښې مصروف وُو چې د اسمان نه يو کاغذ د هغه په سينه باندې راپرِيوَتو، هغه هاغه کاغذ زما طرف ته اُونيولو، ما چې اُولوَستلو نو په هغې کښې لِيکلي وُو: " اے مالک بن ديناره! ته زما بنده زما نه جُدا کوے چې ما د ده د ډيرو کلونو حجُونه نه دي قبول کړي، داسې نه ده بلکه تر نن ورځې پورې مې د ټولو راغلو حاجيانو حجونه هُم د ده دَ آواز په برکت قبول کړي دي چې هيڅ څوک هُم زما د بارګاه نه مَحرُومه لاړ نه شي-"

## د دُعا نه قبليدو حکمتونه

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! د دې حکايت نه مونږ ته دا مَدني ګُلونه مِلاو شو چې د دُعا په قبليدلو کښې چې هر څومره تاخِير اوشي مايُوسه کيدَل پکار نه دي، مونږ د تاخِير په مَصلحَتُونو نه پوهيږو، يقيناً د دُعا په قبوليت کښې تاخير بلکه د دَ دُعا د قبليدلو بالکل نه ښکاره کيدل هُم زمونږ په حق کښې فائده مند وي د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د والدِ ګرامي رئيسُ الْمُتَکَلِّمِين حضرت مولانا نقي علي خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د فرمان خلاصه ده : حکمتِ الهي چې کله ته په ناپوهتيا کښې څه څيز طلب کړې او هغه کريم په لاړ د

مهربانۍ کښې ستا دعا نه قَبلوِي ځکه چې ته څه غواړې که هغه ئې تاله درکړل نو تا ته به نقصان اُورَسِي مثلاً که ته دولت غواړې او هغه تاته مِلاوُو شي نو ايمان به دِ خطره کښې شي، يا ته صحت غواړې او د هغې ملاوِيدل د ستا د آخرت د پاره نقصان ده وي د دې وجې نه هغه ستا دعا نه قبلوي پاره 2 سُوْرَةُالْبَقَرَه اٰيت نمبر 216 کښې الله پاک ارشاد فرمائ ﴿وَ عَسٰۤى اَنْ تُحِبُّوْا شَیْــٴًـا وَّ هُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ؕ﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان:: او نزدې ده چې يوه خبره ستاسو خوښه شي او هغه ستاسو په حق کښې بَده وِي-

يہ کيوں کہوں مجھ کو يہ عطا ہو يہ عطا ہو وہ دو کہ ہميشہ مرے گھر بھر کا بھلا ہو

(ذوقِ نعت، ص208)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## زه به د چا در ته ځمه مولیٰ!

دُعا که قبليږي او که نه قبليږي خو دعا غوښتلو کښې کُوتاهي نه ده پکار خپل رب نه غوښتل ډير سعادت او په حقيقت کښې عبادت دے- په دې باره کښې يو بل حکايت اوګورئ: يو بُوډا سړے د يو ځلمي سره د حَج دپاره لاړو، ځنګه چې ئې اِحرام اُوتړلو او اُوئې وئيل: لبّيک (يعني زه ستا په بارګاه کښې حاضر يم نو) د غيب نه آواز راغے: لَا لَبَّيک (يعني ستا حاضري قبوله نه ده) هغه ځلمي حاجي هغوئي ته اُووَئيل: آيا تاسو دا جواب واوريدو؟ هغه بوډا حاجي جواب ورکړو: آؤ جي، زه خو د اوياؤ کالو نه دا جواب اَورَم ! زه هر ځل دا عرض کووم لَبَّيک او جواب راځي: لَا لَبَّيک هغه ځلمي اُووَئيل: بيا ته ولې راځے او د سفر تکلِيفونه بَرداشت کوے او خپل ځان سترے کوے؟ بوډا حاجي صاحب په ژړا شو او اُوئې وَئيل: نو بيا زه د چا دروازے ته لاړ شم؟ که زه قبول کړے شم او رَد کړے شم خو زه به بس هُم دلته راځم، د دې دَر نه عِلاوَه زما بله پناه نِشته- د غيب نه آواز راغے: " لاړ شه! ستا ټولې حاضرۍ قبولې شوې-" (تفسير روح البيان،پ29،نوح،تحت الآية:10،10/176)

وہ سُنیں یانہ سُنیں اُن کی بَہرحال خوشی دردِ دل ہم تو کہے جائیں گے اِن شاءَ اللہ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## حجاج بن يوسف او يو اعرابي

حجاج بن يوسف په سخته ګرمۍ کښې د حج په سفر د مکے مُعظّمے نه مدينے مُنَوَّرے ته روان وو په لاره کښې ئي پړاؤ واچوُو، د ناشتے په وخت کښې ئي خادِم ته اُووَئيل: څوک مِيلمَه اُوګوره او رائيوله! هغه لارو او د غر طرف ته ئې يَو اعرابي (يعني کلي وال، باندېچي) اُوده اُوليدلو نو په ښپه ئې په ټوکر اُووهو راوېښ ئې کړو او ورته ئې اُووَئيل: ته ګورنر حجاج بن يوسف طلب کړے ئې- هغه پاڅيدو او د حجاج خواه ته راغے- حجاج ورته اُووَئيل:" زما سره روټۍ اوخوره-" هغه ورته اُووَئيل: ما ستا نه د بهتره کريم دعوت قبول کړے دے-" حَجاج ترينه تپوس اُوکړو: هغه څوک دے؟" هغه جواب ورکړو:" الله پاک چې هغه ما ته د روژے نيولو دعوت راکړو او ما اونيوله"- حجاج اُووئيل: په داسې سخته ګرمۍ کښې روژه؟ هغه اُووئيل: آؤ د قيامت د سختې ګرمۍ نه د بچ کيدلو د پاره- حجاج اُووئيل: ښه نو صبا له روژه مه نيسه او زما سره روټۍ اوخوره! هغه اُووئيل: آيا تاسو صبا پورې زما د ژوند ضمانت راکولے شئ؟ حجاج اُووئيل: دا خو زما په وس کښې نه ده- اعرابي وئيل: تعجُّب دے چې ته د آخرت په معامله کښې د بےوسۍ باوجود د دنيا په طلب کښې لګيا ئې! حجاج اُووَئيل: دا طعام ډير خوندور دے- اعرابي اُووئيل: دا نه تا خوندور کړے دے او نه بَاوَرچي، بلکه دا د صحّت و عافيت صفت خوندور کړے دے يعني چې څوک مريض وي هغه ته خوند نه محسُوسيږي خو صحت مند ته محسُوسيږي او د صحت و عافيت ورکوُونکے ذات رَبِّ کائنات دے، لهذا د هغه قادرِ مطلق ذات په دعوت باندې روژه نيول پکار دي- (رفيق المناسک ص212بتغير)

کچھ نیکیاں کمالے جلد آخرت بنالے کوئی نہیں بھروسا اے بھائی ! زندگی کا

(وسائلِ بخشش، ص178)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د چا چې حج قبول نه شو په هغوئي باندي هم کرم اُوشو

حضرت علي بن موفق رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: ما د 50 نه زيات حجُونه کړي، د يو نه عِلاوه ټول حجُونه مې د رسالت مآب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، خلفائے راشدينو رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم، او خپلو وَالِدَينو ته اِيصَال کړي دي [يعني وربخښلي دي]، يو حج راسره باقي وُو (چې د هغې مې تر اُوسه ايصال ثواب نه وُو کړے) ما په ميدان عرفات کښې موجودو خلقو ته اُوکتل او د هغوئي آوازونه مې واورِيدَل نو د الله پاک په بارګاه کښې مې عرض اُوکړو: اے الله کريمه که په دې خلقو کښې څوک داسې ګس وي چې د هغه حج نه وي قبول شوےنو ما خپل حج هغه ته اِيصال کړو [يعني اُوبخښو]- بيا چې کله زه په هغه شپه مُزدَلِفَه کښې اُوده شوم نو په خوب کښې مې د الله پاک ديدار اُوکړو- الله پاک ما ته اُوفرمائيل: اے علي بن موَفِق! آيا ته په ما باندې سَخَاوت کوے؟ما د عرفات په ميدان کښې موجود ټول خلق، او د دوئي د شمير هُمره نور او د هغوئي نه هم په دوه چنده خلق اُوبخښل او په دوئي کښې مې د هر يو ګس او د هغه د کور د کسانو او د هغه د ګاونډيانو په حق کښې د هغه شفاعت قبول کړو- (روض الرياحين، ص128)

کوئی حج کا سبب اب بنا دے　　مجھ کو کعبے کا جلوہ دکھا دے
دیدِ عَرَفات و دیدِ مِنٰی کی　　میرے مولٰی تو خیرات دیدے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حج د سفر بهترين ملګري

يو ګس حضرت حاتِم اَصم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته عرض اُوکړو:" زه د حج په سفر ځم، يو داسې ملګرے راته اوښائے چې د هغوئي د صُحبتِ بابرکت فيض حاصلولو حاصلولو کښې د الله پاک په بارګاه کښې حاضر شم-" هغوئي اُوفرمائيل: اے وروره! که ته ملګرے غواړې نو د قرآنِ کريم ()ملګرتيا اِختيار کړه او که د سفر ملګرے غواړې نو فرشتے خپلې ملګري جوړې کړه او که دوست غواړې نو الله پاک دَ خپلو دوستانو د زړونو

مالک دے او که توښه (يعني د سفر سامان) غواړې نو په الله پاک باندې يقين د ټولو نه بهترينه توښه ده او کعبةُالله خپلې مخې ته تصوّر کړه او په خوشحالئ خوشحالئ ئې طواف کوه-" (بحرالدموع،ص125 ملخصا) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمين صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

معجزه شَقُّ القمر کا ہے "مدینہ" سے عیاں
"مہ" نے شَق ہو کر لیا ہے "دین" کو آغوش میں

د شعر مطلب: په دې شعر کښې شاعر خپل انتهائي ښکلے خيال پيش کړے دے ، چې په طور د مُعجزے د سپوږمئ دوه ټکړے شوې، نو د دې د لفظِ " مدينه " سره داسې اظهار کيږي چې د مدينے اَوَلنے حرف م او آخري حرف ه يو ځائے کړې نو " مه " يعني سپوږمئ ترينه جوړه شوه او د " مه " د دوانړو حروفو م او ه په مينځ کښې لفظِ " دين " موجود دے- دغسې د دې نه لفظِ مدينه جوړ شو! يعني داسې شوه لکه مدينے چې دِين په خپله غيږه کښې نيولے وي!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# په عجيبه انداز کښې د نفس ګرفت

حضرت ابو محمد مُرتعِش رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: ما ډير حَجُونه کړي دي او په دې کښې مې اکثر حَجُونه بغير د څه زادِ راه [ يعني بغير د لارې د سامان وړلو نه] کړي دي بيا په ما باندې ښکاره شَوه چې دا ټوله خو د نفس دُوکه وه ځکه چې يو ځل ماته زما مور د اُوبو منګے دَ رَاډَکَولو حُکم اُوکړو نو زما په نفس باندې دا خبره ډيره ګرانه (يعني بوج) پريوته، چنانچه زه پوهه شوم چې د حج په سفر کښې زما نفس زما ملګرتيا فَقَط د خپل خوند د پاره کړې وه او زه ئې په دوکه کښې ساتلے وُوم ځکه چې که زما نفس فنا شوے وے نو نن به ورته (يعني زما نفس ته به) يو حقِّ شرعي پوره کول (يعني د مور اطاعت کول) ()ولې بے حده مشکل محسوسيدلے! (الرسالة القشيرية،ص١٣٥)

## دَ حُبِّ جاه لذّت د عبادت مشقّت آسانوي

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! تاسو اُولیدل چې! زمونږه بزرګانِ دین به څنګه مدني سوچ لرَلو او څومره عاجزي به ئې کوله- د بعضې خلقو عادت وي چې عامو خلقو سره خو ډیره په عاجزئ او نرمئ مِلاوِیږي خو د وَالدَینو، وُرونړو خوَیندو او کور والؤ سره د هغه سلوک جارِحَانه، غیر اخلاقي او بعضې وخت سخت زړه ازارروونکے وي- ولې؟ ځکه چې په عوامو کښې د ښو اَخلاقو مظاهِره کوَل د ښه سرې په نوم د مشهوریدلو باعث جوړیږي او په کور کښې حُسنِ سُلوک کولو باندې د عزّت او شُهرت څه خاص اُمید نه وي! په دې وجه دا خلق په عوامو کښې ډیر خواږه کیږي! دغه شان بعضې اسلامي وړُونړه چې په مُستحبو کارونو کښې ښه زور او شور سره قربانئ پیش کوي خو په فرائضو او واجباتو ادا کولو کښې کوتاهیاني کوي مثلاً د مور پلار اطاعت، د بچو د شریعت مطابق تربیت او پخپله د خپل ځان د پاره په فرضو علومو کښې د غفلت نه کار اخِستل، نو د هغوئي د پاره هم په دې حکایت کښې د عِبرت انتهائي اَهم مدني ګلونه دي- حقیقت خو دا دے چې په کومو کارونو کښې " شُهرت مِلاویږي او واه واه! کیږي " هغه د مشکلاتو باوجود په آسانئ پوره کیږي ځکه چې حُبِّ جاه (یعني د شُهرت و عزّت غوښتلو) په سبب ب مِلاویدلو والا عزت د لوئ نه لوئ مشقّت اسانوي - یاد ساتئ! " حُبِّ جاه " کښې کښې صرف هلاکت او هلاکت دے- د عبرت د پاره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه احادیثِ مبارکه مُلاحظه کړئ: (۱) د الله پاک عبادت د بندګانو له طرفه د کیدُونکي تعریف د محبّت سره د ګډ وَډ کیدلو نه ځان ساتئ، چرته ستاسو اعمال برباد نه شي (فردوس الاخبار، 223/1، حدیث:1567)

(۲) دوه اُوږي شرمخان د چیلو په رَمه کښې دومره تباهي نه کوِي لکه څومره تباهي چې حُبِّ مال و حُبِّ جاه (یعني د مال و دولت او عزّت و شُهرت مُحبّت) د مسلمان په دین کښې کوي- (ترمذی، 166/4، حدیث:2383)

## دَ حُبِّ جاه متعلق ډېر اهم مدني ګلونه

د " حُبِّ جاه " متعلق د اِحیاءُالعلوم جلد 3 صفحه 616 تا 617 نه یَو څو مدني ګلونه [ضروري وضاحت او مثالونو سره] ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم: " (حُبِّ جاه و رِیا) نفس لره هلاک کوُونکي آخري اُمُور او د باطِني مکر و فریب نه دِي، په دې کښې عُلماء او عبادت کوُونکي او د آخرت منازِل طے کوُونکي مُبتلا کېږي، هغه داسې چې دا حضرات بعضې وخت په ډېرو کوششونو په عبادتونو کولو کښې او، نفساني خواهشاتو باندې قابُو حاصلولو کښې بلکه د شُبهاتو نه هم ځان بچ کولو کښې کامیاب شي، خپل اندامُونه هُم د ظاهري ګناهونو نه بچ کوي، خو د عوامو په مخکښې د خپلو نیکو کارونو، دیني کارنامو او د نیکۍ د دعوت عام کولو د پاره کړو کوششونو لکه چې ما دا اوکړل، هغه مې اُوکړل، هلته مې بیان وُو، دلته مې بیان وُو، د بیاناتو (کولو یا نعت وئیلو) د پاره مې دومره دومره تاریخونه " بُک " دي، مدني مشوره کښې د شپې دومره بجے شوې او د آرام نه ملاویدلو په وجه ستړے یم څکه مې آواز ناست دے- " په مدني قافله کښې په سفر یم، په دومره دومره مدني قافلو کښې یا دیني کارونو د پاره مې فلانکي فلانکي ښارونو او ملکونو ته سفر کړے دے وغیره وغیره [یعني د خپلو دیني کارنامو] د اظهار [یعني ښکاره] کولو په ذریعه خپل نفس ته راحت و سکون ورکول غواړي، د خپل علم و عمل ظاهرَولو په ذریعه په مخلوق کښې خپل مقبُولِیَت او د هغوئي له طرفه کیدونکے خپل تعظیم و توقیر، واه واه او عزت نه خوندونه حاصِلَوِي، کله چې ورته مقبُولِیت او شُهرت ملاوِیدل شروع شي نو بیا ئې نفس غواړي چې زما علم و عمل خلقو ته زیات نه زیات ښکاره کیدل پکار دي چې نورو مې هم عزّت زیات شي لهذا هغه د خپلو نیکو او علمي صلاحیتونو متعلق مخلوق ته د اطلاع ورکولو نورې لارې لټوي او په دې خبره قناعت نه کوي چې خالقِ کائنات ته زما حال معلوم دے او زما رب زما د اعمالو نه خبر دے او ما ته اَجر راکوونکے هُم هغه دے بلکه په دې خبره خوشحالیږي چې خلق مې تعریف او واه واه اوکړي او د خالق کائنات له طرفه حاصلیدونکي تعریف باندې

قناعت نه کوِي، نفس په دې ډېر ښه پوهیږي چې که خلقو ته دا پته اولګي چې فلانکے بنده د نفساني خواهشاتو تَرک کوُونکے دے، د شُبهاتو نه بچ کیږي او د الله په لاره کښې ډیرې پیسے خرچ کوي، په عباداتو کښې سخت مشقّت برداشت کوي په خوف خدا او عشق رسول کښې ډیره زاري فریاد او ژړاګانې کوِي، ډېر دِیني کارونو کوي، د خلقو د اِصلاح ډېر درد لري، په مدني قافلو کښې پخپله هُم ډېر ډېر سفر کوي او په نورو هم کوشش کوِي، د ژبې، سترګو، او خیټې قُفلِ مدینه لَګوي، روزانه د فیضانِ سنّت دومره دومره درسونه ورکوي، د مدرسه المَدینه (بالغان) ، صدائے مدِینه او علاقائي دورے ډېر زیات پابند دے نو د هغه (خلقو) په ژبو باندې به د دې (بنده) ډېر ډېر تعریفُونه جاري شي، هغوئي به ده ته د احترام په نظر ګوري، د ده ملاقات او زیارت کوَل به د سعادت باعث او د آخرت سرمایه ګنړي، د حصولِ برکت د پاره به ورته درخواستونه کوي چې زما مکان یا دوکان ته تشریف راوړئ او دعا اوکړئ، او ډیره په عاجزئ به ورته د چائے یا طعام د دعوت قبلولو درخواستونه کوي، د ده په رائے باندې چلیدلو کښې به د خپلو دوانړو جهانونو خیر تصوّر کوِي، چې کوم ځائے ئې وِینې خدمت به ئې کوي او سلام به ورته کوي، د ده د جُوتے د خوړلو او ښنبلو حِرص به کوِي، د ده تحفه یا د ده لاس سره لګیدلي څیز حاصلولو د پاره به د یو بل نه مخکښې کیږي، د ده ورکړے شوے څیز به ښګُلَوِي، د ده ښپې او لاس به ښګُل کوِي، احتراماً به ورسره د "حضرت! حضور! یاسیّدي!" وغیره القاباتو سره ښه په ادب سره په قلاره آواز کښې خبرې کوي، په جوړه لاسو او ټیټ سَر به ورته د دعاګانو اِلتِجَا کوِي، د ده مجلس ته راتللو باندې به تعظیماً اُودرِیږي، دے به د ادب په ځائے کښِینَوِي، د ده په وړاندې به لاس په نامه ولاړ وي، د ده نه مخکښې به خوراک نه شروع کوي، په عاجزانه انداز کښې به ورته تحفے او نذرانے پیش کوي- د ده په وړاندې به د عاجزئ په طور ځان وړوکے (مثلاً خادم یا غلام) تصور کوي، په سودا اخِستلو او خرڅَوَلو او نورو معاملاتو کښې به ده سره نرمي کوي، ده له به څیز د ښه کوالټئ او هغه هم اَرزان یا مُفت وَرکوي- د ده کارونه به د ده د عزت د پاره په

سر سترګو کوي- د خلقو داسې عقيدت او احترام نفس ته ډير زيات خوند ورکوي او دا هغه خوند دے چې په ټولو خواهِشاتو باندې غالب دے، داسې کس ته بيا د داسې عقيدتونو د خوندونو په سبب ګناهونه پرېښودَل معمولي شان خبره ښکاري ځکه چې نفس د ''حُبِّ جَاه '' په مريض باندې د ګناه کولو په ځائے هغه ته اُلټه دا مشوره ورکوِي چې ګوره که ګناه دِ اوکړه نو خلق به درنه مخ واړوي! لهٰذا د نفس د تعاون په سبب په معتقدينو کښې د خپل وقار و عزت برقراره ساتلو د پاره په عبادت باندې استقامت او د هغې سختي هغه ته نرمي او اساني محسوسيږي ځکه چې هغه باطِني طور په خوندونو کښې د ټولو نه لوئي خوند او د ټولو شهوَتُونو (يعني ټولو خواهشاتو) نه لوئ شَهوت (يعني د عوامو د عقيدت په وجه حاصل شوے خوند) اوپيژني- هغه په دې خوش فهمئ کښې اخته وي چې زما ژوند د الله پاک د پاره او د هغه د مرضئ مطابق تيريږي، حالانکه د هغه ژوند د هغه پټ خواهش (يعني د حُبِّ جاه يعني خپل واه واه غوښتلو والا پټ خواهش) نه لاندې تيريږي چې په دې باندې پوهِيدلو نه لوئ لوئ او مظبوط عقلونه هُم عاجز او بے وسه دي، هغه خپل ځان په عبادتِ خداوندي کښې مُخلص او د الله پاک د مَحَارِمو (يعني حرام کړو معاملاتو) نه اِجتِناب (يعني پرهيز) کوونکے ګنړي! حالانکه داسې نه ده، بلکه هغه خو د خلقو په وړاندې د زيب و زينت او تَصَنُّع (يعني بناوټ) په ذريعه ښه خوندونه حاصِلَوِي، هغه ته چې کوم عزّت او شُهرت ملاوِيږي په هغې باندې هغه ډير خوشحاله دے- دغسې د هغه د عبادتونو او نيکو کارونو ثواب ضائع شي او د هغه نوم د منافقانو په فهرست کښې اوليکلے شي او هغه نادان دا سوچ کوي چې ما ته د الله پاک قُرب حاصل دے!

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو کر اخلاص ایسا عطا یاالٰہی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زيارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائسته کښې کیدونکي د دعوتِ إسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے إلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره تول شپه تيروئ ✿ د سُنّتو د تربيَت د پاره مَدَنِي قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ✿ هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَنِي إنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي." إن شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. إن شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com